**لیکوال: ګل رحمن رحماني**

د چاپېریال ساتنې ملي ادارې له لوري د چاپېریال ساتنې په اړه د مقالو د سیالۍ ګډونوال

موضوع: **د چاپېریال ساتنې په برخه کې د عامه پوهاوي اهمیت**

## د چاپېریال ساتنې په برخه کې د عامه پوهاوي اهمیت

**پیلیزه:**

چاپېریال ساتنه اصلا زموږ د څلورو خواوو د ټولو ژوندیو او نا ژوندیو موجوداتو په اړه یو علمي او ټولنیز بحث دی، ځکه چې سالم چاپېریال په مستقیم او نا مستقیم ډول زموږ پر ژوند اغېز لري او خرابېدل یې د ژوندروانه بېړۍ هم له خطرناکو توپانونو سره مخ کولای شي.

د چاپېریال ساتنې پوهان په دې اند دي چې اوبه، هوا او خاوره د چاپېریال هغه درې اساسي ستنې دي چې زموږ د ژوند مانۍ ورباندې ولاړه ده، خو په افغانستان کې ځکه دغه درې واړه ستنې کمزورې شوې چې خلک په پوهاوي او ناپوهاوۍ کې یا ورسره عادي چلند کوي یا فکر کوي چې د ژوند تېرولو اصلي وسیله پیسه او ټولنیز موقف دی.

څو لسیزو جګړو که هېواد ته ګڼې ویجاړۍ رامنځته کړې، نو له شک پرته چې ددې ویجاړیو زیاته برخه چاپېریال ته اوښتې، زموږ هوا ککړه شوې، سیندونه، کروندې، غرونه او ځنګلونه— چې باید زرغونې سیمې وی_ ونې او ځنګلونه یې وهل شوي، د استوګنې د کورونو او نورو ابادیو لپاره بې پلانه کارول شوي او دې ټولو پر هوا او اقلیم اغېز کړی دی. داسې کسان هم لرو چې چاپېریال ته د فردي شتمنۍ په سترګه ګوري، حال دا چې چاپېریال د هېچا نه دی، خو د هر چا دی.

انسانان که په خپله ټولنه کې خواړو، درملو، زده کړې، دندې او مناسب استوګنځي یا سرپناه ته اړتیا لري، همداسې مناسبې هوا او غوره جغرافیوي شرایطو ته هم اړ دی. دا اړتیا یې هغه مهال پوره کېږي چې د خپل ژوند او نسل د پایښت لپاره سالم چاپېریال ولري، خو له بده مرغه چې دوی دغه حیاتي او اساسي عنصر له پامه باسي یا په بل عبارت ددغه الهي ډالۍ درناوی او ساتنه څنګه _چې لازمه ګڼل کېږي_ هغسې نه کوي او په اړه یې عامه پوهاوي ته جدي اړتیا ده.

## د مقالې موخه:

په چاپېریال ساتنه کې د عامه پوهاوي لارې چارې او د پوهاوي اهمیت، مهالنی، نه بلکې د ټول ژوند او حتی ټولنیزو اخلاقو یوه برخه ده څو خلک په خپلو شته امکاناتو د خپل ملي او انساني احساس له مخې چاپېریال خپل کور وبولي او د خپلې شتمنۍ په څېر یې د ساتنې لپاره اقدام وکړي.

## اصلي متن:

افغانستان غرنی او په وچه کې را ایسار هېواد دی، زموږ ښارونه هم غرنۍ برخې لري او کلیوالي استوګن مو له غرونو، سیندونو، کروندو او ځنګلونو سره اشنا دي، همدې طبیعي ورکړې ورته پاکه هوا، خوږې اوبه، نباتي خواړه، روغتیا او نور...امتیازات ډالۍ کړي دي، خو ښایي ډېرو کمو په دې اړه فکر کړی وي، زموږ همدا چاپېریال جوړونکي توکي پر دوی حق لري او باید لازمه ساتنه یې وشي.

ساینس پوهان وایي چې یوه ونه د سلو کسانو لپاره اکسیجن تولیدوي چې د ژوند تېرولو لپاره مهم حیاتي کیمیاوي عنصر دی، په همدې ډول شنې سیمې، د پاکو اوبو زېرمې سیندونه، کروندې او غرونه چې د اقتصادي اهمیت تر څنګ روغتیایي اهمیت لري، په ځانګړې ډول کلیوالي چاپېریال کې زموږ د ژوند د دوام مهمې سرچینې دي.

په همدې ډول په ښارونو کې بې پلانه ودانیو، خپل سرو کارونو، فابریکو، تاریخ تېرو موټرو، په حمامونو او پخلنځیو کې د سون د غیرمجاز او مضر دود تولیدوونکو توکو سولو په هوا کې مضر او وژونکي ګازونه خپاره کړي چې د ښاري چاپېریال پر وضعیت یې له بده مرغه خورا منفي اغېز کړی دی.

اوس پوښتنه دا ده چې ایا خلک دا کارونه قصدا کوي که په ناپوهۍ کې؟ له شک پرته چې په دې چاپېریال ضد فعالیتونو کې ډېر لوستي او حتی داسې کسان ښکېل دي چې د چاپېریال پر ارزښت پوهېږي، خو زیاته برخه یې عام وګړي دي چې په اصطلاح خپل لاسونه او پښې په تبر وهي او خپل ژوند محدودوي.

که غواړو چې سالم ژوند وکړو، سالم ذهن ولرو او د هېواد ساتنې لپاره یو سالم او په تن روغ نسل پرېږدو؛نو ددې موخو لپاره تر ټولو غوره بستر یو مناسب او پاک چاپېریال دی چې موږ لا هم ورڅخه محروم یوو او یا مو د نورو د مرستو په تمه وخت بې ځایه تېر کړی دی.

چاپېریال ساتنه او په اړه یې عامه پوهاوی یوه داسې حیاتي موضوع ده چې هم په فردي او هم په جمعي مسوولیت پورې تړل کېږي او هر څوک په کې تر خپل توانه مسوول دی، خو دا مسوولیت باید

ټولو خلکو ته د عامه پوهاوي له لارې بنسټيز شي، ځکه خو ويلی شو چې د چاپېريال ساتنې په اړه که عامه پوهاوی هر څومره ډېر هم وشي، نو کم دی، ځکه چې دا پوهاوی خير دی، د ټولنيز شر مخنيوی کوي او د خير ښېګڼو عامول د هر مسلماني ايماني او وجداني دنده ده.

**عامه پوهاوی څه ته وايي؟**

عامه پوهاوی یا اګاهي عامه یوه داسې موضوع ده چې په ټوله نړۍ کې د یو شمېر موضوعاتو، حياتي پروسو، خطرونو او پدیدیو له واقع کېدو وړاندې د مخنيوونکو پلانونو او يوې موضوع باندې د پوهېدو لپاره خلکو ته وړاندې کېږي، لکه څنګه چې طب کې وايي چې د هرې ناروغۍ د درملنې لپاره تر ټولو لومړی کار وقايوي تدابير دي يا وقايه تر درملنې غوره ده، نو همداسې عامه پوهاوی هم د پېښو او پدیدیو لپاره مخکينۍ وقايه ده.

عامه پوهاوی د ډله ييزې ابلاغ د ساده وسايلو لکه مطبوعاتو، راډيو ټلويزيون، انټرنېټ، اعلان او کمپاين له لارې د يوې موضوع په اړه خلکو ته د ابتدايي معلوماتو ورکړې ته وايي چې هم ځان خبر کړي او هم نور وپوهوي چې پايله يې ژغورنه او خونديتوب دی.

همدا نن په افغانستان کې د ډېرو دولتي او نا دولتي پروژو او پروګرامونو يوه زياته برخه پيسې د عامه پوهاوي په پروګرامونو لګېږي چې معمولاً مسووليت يې د هر ارګان د اطلاعاتو، عامه اړيکو، عامه پوهاوي او مطبوعاتي دفترونو پر غاړه وي. د کرونا ويروس د خپرېدو په پيل کې له دې ناروغۍ سره د مبارزې دولتي کمېټې ۲۷ ميليونه افغانۍ يوازې په عامه پوهاوي ولګولې چې خلکو ته وقايوي او د خونديتوب تدابير ور زده کړي.

چاپېريال ساتنه هم لکه چې وړاندې مو وويل د خلکو له ژوند سره يوه تړلې حياتي او اساسي موضوع ده چې ښايي يوازې لوستي خلک يې په اهميت يو څه پوه وي، خو اکثره خلک نه پوهېږي چې چاپېريال ساتنه اصلاً د دولتونو او رسمي ارګانونو دنده ده، ولې مهم رول په کې د خلکو دی، په داسې سختو او ترينګلو حالاتو کې چې دولت خپلې ګڼې ستونزې لري، نو دا د خلکو مسووليت دی چې خپل چاپېريال له ډېرو ساده لارو چارو وساتي.

**زموږ چاپېريال او عامه پوهاوی:**

زموږ چاپېريال په لاندې څلورو برخو وېشل شوی چې البته وروسته به يې هره برخه د عامه پوهاوي سره د تړاو له مخې هم وڅېړو.

1. **طبيعي چاپېريال**: دا چاپېريال د ځمکې پر مخ له ټولو ژوندیو او نا ژوندیو موجوداتو څخه جوړ شوی دی.
2. **رواني چاپېريال**: دا چاپېريال په افرادو کې د فزيکي او ټولنيز چاپېريال رواني څېړنې ته وايي چې سالم رواني چاپېريال د سالم جغرافيوي چاپېريال د ايجاد سبب ګرځي.
3. **هنري چاپېريال**: دا چاپېريال په افرادو کې د ځينو کړنو د موضوع، دليل او انګيزې رېښو ته وايي چې د چاپېريال په ساتنه کې خورا مهم ګڼل کېږي.
4. **ودانيز چاپېريال**: ودانيز يا معماري چاپېريال په کليو او ښارونو کې د ودانيو او تاسيساتو د بهرني او دنني شکل جوړونې ته وايي چې د ژوند پر چاپېريال اغېز لري.

دغه وېش ته په پام سره کولی شو چې هر يو ډول يې په عامه پوهاوي کې په جلا ډول وڅېړو.

په طبيعي چاپېريال کې بايد خلک په دې وپوهول شي چې څنګه ژوند د الله تعالی ورکړی امانت دی، همداسې چاپېريال هم د سالم او ښه ژوند تېرولو لپاره خورا اړين دی. الله تعالی سپېڅلی او ښکلی دی، ښکلي خلک يې خوښېږي او زموږ د پيغمبر(ص) وينا هم دا ده چې پاکي د ايمان جز دی، نو خلک بايد د خپلو ديني ارزښتونو په اساس د چاپېريال درناوی او ساتنه وکړي.

په رواني چاپېريال کې له بده مرغه چې ډېر کار نه دی شوی، ګڼ افغانان رواني ستونزې لري او دا ډول کسان له ټولنې او کورنۍ بې پروا وي، په داسې حال کې چې سالم چاپېريال د رواني ناروغيو درمل وي. هغوی که په پاکو او طبيعي سيمو، باغونو، کروندو او ښکلو پارکونو کې څو شېبې په ارام تېرې کړي، نو ذهني حالت کې يې بدلون راتللی شي، نو ځکه بايد زموږ عامه پوهاوی رواني اړخ هم ولري او ارواپوهان په کې را ښکېل شي.

اړوند اروپوهنيز درسونه او پيغامونه بايد د رواني او غير رواني وګړو چاپېريال دې ته چمتو کړي چې چاپېريال زموږ د ټولنې تن او وجود دی او په خرابولو سره يې په حقيقت کې زموږ کور ورانېږي او ښکلې هوا مو په زهرو بدلېږي.

هنري چاپېريال ځکه مهم دی چې انسان طبيعتا هنر خوښوونکی دی، هنر ته د طبيعت تقليد هم ويل شوی، يو تصوير د زرو کلمو څرګندوی وي، د طبيعت د ساتنې او زيانونو د بيان لپاره يو شعر، سندره، تصوير او ويډيويي کلېپ رښتيا هم له زرګونو کلمو غوره او اغېزناک وي. اړينه ده چې د عامه پوهاوي په برخه کې له خواله شبکو، رسنيو او پوسټرونو زياته ګټه واخيستل شي، ددې کار بله ګټه دا ده چې پر لوستو او نالوستو دواړو اغېز کوي، د چاپېريال ساتنې لپاره د راډيو او ټلويزيون غږيز او تصويري لنډ اعلانونه او پيغامونه خلک ددغه حياتي موضوع ته ځېر کولی او پوهولی شي.

له دې پرته پر دېوالونو، کورونو، لويو لارو او د ټولېدنې په بېلابېلو ساحو کې د تصويري پوسټرونو، بروشرونو او يا هم د امکان په صورت کې د سکرين او لاسي لاوډ سپيکرونو له لارې د چاپېريال ساتنې د پيغامونو خپرول خورا اغېزناک دي.
زموږ ولس پر دين او عقيده ولاړ ملت دی، د مسجد، ملا او ممبر خبره ورته تر هر څه غوره او د کانې کرښه وي، نو کله ديني عالمان او مبلغين په خپلو موعظو کې د چاپېريال ساتنې اهميت بيان کړي او په دې برخه کې ورته د خپلو کړنو بدي او ګناه بيان کړي، نو باوري يم چې خلک ورته ځېر کېږي.
کولی شو چې عامه پوهاوی د سواد (ليک لوست) له زاويې څخه هم په دوو برخو کې وڅېړو:

**الف: د لوست لپاره**

لوستي کسان د مستقيمې او نا مستقيمي زده کړې د حصول وړتيا لري، له مطالبو يې درک او فهم هم تر نورو اوچت وی، نو ځکه بايد دوی ته عامه پوهاوی هم يو څه د لوړې کچې او علمي وي، څو پېچلي مطالب او پوهاوی ساده کړي او بيايې د يوه ټولنيز مسووليت او امانت په توګه خپلې کورنۍ او نورو ته په ساده ژبه وړاندې کړي. دوی له ټولو ليکنيو، غږيزو او ويډيويي موادو څخه ګټه اخيستلی شي، د نورو تجربې لېږدولی شي، مسوول ارګانونه بايد ورته مسلکي ورکشاپونه او سيمينارونه ولري.

ددې پوهاوي لوړه کچه په ښوونځيو او پوهنتونونو په ځانګړي ډول چاپېريال ساتنې او کرنې په برخه کې عملي کېدلی شي. دوی که څه هم په عملي ساحو کې ډېر ښکېل نه دي، په نورو چارو بوخت دی، خو مسووليت يې لوی دی.

**ب: د نالوستو لپاره**

لکه مخکې چې يادونه وشوه، دا قشر زموږ د ټولنې اکثريت جوړوي او له چاپېريال سره يې اړيکه هم مستقيمه ده، په همدې سبب له ناسم چاپېريال زيات زيانمن شوي هم دوی دي. دوی ته په ساده او عام فهمه ژبه د عامه پوهاوي د پيغامونو وړاندې کول چې فلمونه، تصويرونه او غږيز پيغامونه په کې راځي، يا د مخورو، عالمانو او با نفوذه اشخاصو، يا د ناسم چاپېريال زيانمنو ويناوې او خبرې په کې شامل دي؛ موثرې پايلې لري او مثب اغېز يې پر چاپېريال هم مستقيم دی.

دلته به بده نه وي چې يوه شخصي خاطره د بېلګې په بڼه هم راوړم. په ۱۳۹۸ لمريز کال کې زما سپين سرې مور د تنفسي ناروغيو يا نفس تنګۍ په سبب له دې فاني نړۍ سترګې پټې کړې او د ناروغۍ په جريان کې به يې له مصنوعي اکيسجن کار اخيسته. يوه ورځ ورته خپل معالج ډاکټر وويل: مورجانې! پوهېږې چې ستا نفس تنګۍ د کابل ښار د اوسنۍ ککړې هوا په سبب ده، خو رېښه يې له هغه دود او

لمبو سره ترلې چې کلیوالې ښځې یې په خپل پخلنځي کې د خوړو او ډوډۍ پخولو لپاره کاروي، کاش چې کلیوالو ښځو دې ته ډېر پام کولی، ځکه اغېز یې که هغه مهال نه وي، نو زړبودۍ کې خامخا را څرګندېږي. د ډاکټر خبره زما د مور زړه ته لوېدلې وه، کله چې کلي ته ستانه شوو، نو ټولو ښځو ته یې همدا خبرې کولې.

بله مهمه خبره دا ده چې هر کال د چاپېریال د زرغونتیا لپاره زرګونه نیالګي ږدو، دا کار تر ډېره هر پسرلی په ننداریز ډول تر سره کېږي، خو د ساتنې او پالنې یې کومه ژمنه نشته او ګڼ نیالګي بېرته د فزیکي پېښو او یا اوبو نه ور رسېدو په سبب له منځه تللي دي، خو که د همدې نیالګیو د اېښودو تر څنګ هر پسرلی د بوټو او ونو د ساتنې د لارو چارو او ساده امکاناتو په اړه په اړه هم عامه پوهاوی وشي، خلک او مسوول ارګانونه پر خپل مکلفیت ټینګ او ژمن کړل شي، نو شک نشته چې یو زرغون چاپېریال به ولرو.

چاپېریال ساتنه یو علمي بحث هم دی، خو موږ د عوامو په ژبه دا بحث نه شو وړاندې کولی، ځکه چې بحث یو څه اکاډمیک کېږي، خو په ښوونځیو او ښوونیزو مرکزونو کې باید زده کوونکي لږ تر لږه وپوهول شي چې زموږ د ژوند چاپېریال څنګه ترکیب شوی دی او له دې پوهاوي څه دوی خپل اخیستي معلومات څنګه په ساده ژبه خپلو کورنیو او خپلواکو کې شریکولی شي.

**پایله**

دا چې د افغانستان ګڼ خلک نالوستي دي او په اطرافو کې ژوند لري، شک نشته چې دوی به د خپل چاپېریال د اهمیت او ساتنې په اړه هم ګټور معلومات ونه لري، بېوزلي هم ددې لامل شوې چې مسوول چارواکي او د چاپېریال ساتنې اړوند بنسټونه په دې برخه کې اغېزناک اقدام ونه شي کړلی.

په داسې حالاتو کې تر ټولو مهمه او ګټوره لاره — چې کولی شي زموږ د ژوند چاپېریال خوندي کړي— هغه عامه پوهاوی دی، څو خلک او هغه ډلې چې له چاپېریال سره یې دښمني را اخیستې، په لوی لاس یا ټېروتنه ورته زیان اړوي له بېلابېلو لارو وپوهول شي چې د چاپېریال خرابول په حقیقت کې د خپل ژوند محدودول او د عمر لنډول دي.

موږ ټول باور لرو چې هر انسان له طبیعت سره فطري مینه لري، خو ډېر کم داسې انسانان به ومومو چې ددغه طبیعي ښکلا او شتمنۍ د ساتنې لپاره کار وکړي او د طبیعت د لا ښکلا لامل شوی وي. د روغتیا نړیوال سازمان یو راپور څرګندوي چې تر پنځوسو زرو ډېر افغان وګړي هر کال د هوا له ککړتیا

څخه د را ولاړېدونکو ناروغیو له کبله مري، همدا لامل دی چې په نړۍ کې د تنفسي ستونزو له کبله د افغانانو د مړینې کچه د ځینو نورو هېوادونو په پرتله لوړه ده.

همدا اوس زموږ د لویو ښارونو ستونزه دا ده چې د تودوخې یا پخلي لپاره په کورونو کې د لرګیو سون، په موټرونو کې د ټیټ کیفیت لرونکو تېلو کارول او په عامه ځایونو یا کارخانو کې د لرګیو او د ډېرو سکارو سوځول، هغه څه دي چې هوا ککړوي او ډېرې زهرجن غازونه لکه کاربن مونو اکسایډ، نایټروجن ډایکسایډ، بینزو پایرین او ډایوکسین پیدا کوي چې وروسته د راز راز تنفسي ناروغیو تر څنګ د سرطان، زړه، پوستکي او رواني ناروغیو سبب هم ګرځي. خلک باید وپوهول شي چې ځان او د نورو ژوند وژغوري.

**وړاندیزونه:**

1. دا مهال په هېواد کې ګڼې رسنۍ او تبلیغاتي شرکتونه فعال دي، دوی باید د چاپېریال ساتنه یوازې د چاپېریال ساتنې ملي ادارې او نورو مسوولو ارګانونو دنده ونه بولي، خپله هم باید ځینې چاپي، غږیز او تصویري لنډ او اوږده کلیپونه خپاره کړي او خلکو ته پوهاوی ورکړي، ځکه دا ادارې خپله هم سالم چاپېریال ته سخته اړتیا لري.
2. د داسې پیغامونو او مفاهیمو وړاندې کول چې مستند وي خلکو ته یقین ورکړي چې چاپېریال زموږ او ستاسې ټولو ګډ کور دی، که پام ورته ونه کړو نو ټول بې سرپناه کېږو او ګڼې ناروغۍ هم راته کمین کې ناستې دي.
3. د لوستو لپاره د عامه پوهاوي کمپاین او خپراوي کې باید خصوصي ارګانونه او ودانیز شرکتونه په دې پوه او ژمن کړل شي چې دوی باید د چاپېریال دښمنان نه، بلکې خدمتګاران وي، شنو ساحو، ونو او ځمکو ته باید د ژوندیو موجوداتو په شان درناوی ولري.
4. خپله اوسنۍ سیالي په حقیقت کې د چاپېریال ساتنې لپاره د پوهاوي او اهمیت یوه ډېره غوره لار ده. باید د ښوونځیو د زده کوونکو، د پوهنتون محصلانو، هنرمندانو، انځورګرانو او ... نورو با نفوذه مسلکي قشرونو تر منځ هم د چاپېریال د اهمیت په اړه دا ډول سیالۍ رامنځته شي او عامه پوهاوی پیاوړی کړی.
5. اطلاعاتو او فرهنګ او د حج اوقافو وزارتونه چې یو یې رسنۍ او تبلیغاتي اسانتیاوې او بل هم دیني عالمان او ممبرونه لري، باید د پیغامونو او دیني خطبو او موعظو له لارې خلکو ته عامه پوهاوی ورکړي او چاپېریال وژغوري.

6. د چاپېریال ساتنې ملي اداري سره باید د چاپېریال په اړه د ځانګړو راډیویي او ټلویزیوني خپرونو په چمتو کولو او خلکو ته رسولو کې مرسته وشي، ځکه چې نن رسنۍ د اذهانو د روښانولو او خلکو د پوهاوي لپاره غوره وسیلي دي، خو دا ډول اختصاصي او مسلکي خپرونې به وکولی شي چې پیغام په تر ټولو اغېزناک ډول ورسوي.
7. په ښوونځي او نورو ښوونیزو مرکزونو کې د چاپېریال ساتنې مضمون کې د مهمو او داسې اغېزناکو مطالبو ځای پر ځای کول چې د هرې سیمې اړتیا او د چاپېریال اوسنی حالت په پام کې نیول شوی وي، یوازې تعریفونه، د طبیعت د ښکلاوو او تیوریو بیان ډېر اغېزناک نه دی. دا کتاب باید له هر زده کوونکي او لوستونکو د چاپېریال ملګری او د چاپېریال ساتنې مبلغ جوړ کړي.

**اخځلیکونه**


1. دودیال، محمد بشیر. (۱۳۹۷لمریز). د طبیعي منابعو مدیریت. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
2. ستانکزی، نصرالله. (۱۳۹۸لمریز). حقوق محیط زیست. کابل: انتشارات سعید.
3. شیرزاد، محمد داوود. (۱۳۹۸لمریز). اساسات محیط زیست. کابل: انتشارات سید حبیب الله.
4. طاهر، محمد. (۱۳۹۳لمریز). د خاورې سمون. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
5. کوهستانی، نثار احمد. حکیمي، محمد شهاب .(۱۳۹۵لمریز).علم چراگاه و مدیریت آن. کابل: انتشارات قرطبه.